مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ لسمه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر لومړۍ | ۴۷۱ یمه ګڼه

# د ولسمشریزو ټاکنو نامعلوم برخلیک؛

## کمېسیون د دوو میاشتو په تېرېدو بیا هم د لومړنیو پایلو پر اعلان بریالی نه شو



۳

**پوهنتون**


۴ مخ

## تابش پوهنتون

تابش پوهنتون د خپلو محصلینو د وړتیاوو لوړولو لپاره پر کور دننه سربېره، په هند او قزاقستان کې هم له ځینو پوهنتونونو سره علمي اړیکې لري، چې کولی شي په وخت خپل محصلین ور ولېږي.




## په لغمان کې د ۷۵ میلیونو افغانیو په لګښت د یوه کانال د جوړېدو چارې پیل شوې



په لغمان کې د ۷۵ میلیونو افغانیو په لګښت د یوه کانال د جوړېدو چارې پیل شوې چې د یوه نیم کال په موده کې به سرته ورسېږي.

د چارواکو په خبره، د دغه کانال په جوړېدو سره به شاوخوا ۲۰۰۰ هکټاره ځمکه د سیلابونو د اوبو له خطر څخه وژغورل شي. د لغمان د ویندوی له دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د دغه کانال د جوړېدو د چارو پرانیسته تېره ورځ د مرستیال والي او څو تنو نورو مسوولینو له لوري وشوه.

په خبرپاڼه کې د لغمان ولایت د سیندیزې فرعي حوزې د رییس سید عبدالرحیم سادات د معلوماتو له مخې لیکل شوي چې د عبدالرحیمزیو کانال ۱۷ کیلومتره اوږدوالی لري، ۵۰۰۰ کورنۍ ترې مستقیماً استفاده کولای شي، شاوخوا ۲۰۰۰ هکټاره ځمکه به ترې خړوبه شي چې ټولټال پرې څه کم ۷۵ میلیونه افغانۍ لګښت راځي.

په دوحه کې کېدونکې پرمختګونه او په کابل کې لانجې
۲ مخ

په افغانستان کې د چین فعالیتونه د پام وړ دي
۲ مخ

افغانستان؛ د بې وزلۍ کچه او تیاره راتلونکی
۳ مخ

## په خوست کې د بهرنیو ځواکونو په هوایي برید کې شپږ ملکیان وژل شوي دي

ځایي سرچینو ویلي چې په خوست ولایت کې د بهرنیو ځواکونو د بې پیلوټه الوتکې په برید کې د یوې کورنۍ شپږ غړي وژل شوي دي.

د دغه ولایت د کوچیانو د ځایي شورا مشر ګل مرجان ویلي چې دا پېښه په علیشېرو ولسوالۍ کې رامنځ ته شوې ده.

هغه زیاته کړې، د دې ولسوالۍ د یوې کورنۍ غړي په روغتون کې د ماشوم له زېږون وروسته، بېرته په نیمه شپه کې خپل کور ته روان وو چې په لاره کې پرې بې پیلوټه الوتکې برید کړی دی. د ګل مرجان په خبره، په دې پېښه کې درې ښځې، دوه سړي او یو نوی زیږېدلی ماشوم وژل شوی دی.

په ورته وخت کې د خوست د امنیه قوماندانۍ د امنیت امر نجیب الله عیني پېښه تایید کړې، خو په دې اړه یې نور معلومات نه دي ورکړي.

بلخوا د خوست د والي ویاند طالب منګل ویلي چې یو پلاوي په دې اړه پلټنې پیل کړې چې وروسته به له رسنیو سره شریکې شي.


د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد هم ویلي چې په دې پېښه کې د ښځو په ګډون، پنځه ملکي وګړي وژل شوي دي. خو په کابل کې د امریکایي ځواکونو مطبوعاتي دفتر ویلي چې هلته هوایي برید شوی چې پکې درې وسله وال طالبان وژل شوي او په دې پېښه کې یې د ملکي وګړو وژل رد کړي دي. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د هېواد په ډېریو ولایتونو کې د بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی چې تر ډېره پکې ملکیان په نښه شوي دي.

## اجازه نه ورکوو چې داعش بیاځلې په افغانستان کې سر راپورته کړي



۵ مخ

## ارګ: اگر طالبان آتش‌بس را بپذیرند، مذاکرات مستقیم آغاز خواهند شد



صدیق صدیقی، سخن‌گوی رئیس‌جمهور می‌گوید که اگر طالبان پیشنهاد امریکا را دربارهٔ آتش‌بس بپذیرند، گفت‌وگوهای مستقیم و رو در رو میان حکومت افغانستان و طالبان آغاز خواهند شد. صدیقی می‌افزاید که دونالد ترمپ، رئیس‌جمهور امریکا در دیدار شام روز پنج‌شنبه اش با رئیس‌جمهور غنی در بگرام، بر صلح به مالکیت حکومت افغانستان تأکید کرده‌است. وی افزود: «امیدواری ما این است که طالبان در قسمت پذیرفتن آتش‌بس آن‌ها هم کار کنند. اگر واقعاً تعهد دارند که از جنگ دست بکشند، به باور ما بهترین فرصت است که این‌ها این فرصت را بپذیرند».

این در حالی است که دونالد ترمپ در سفر غیرمنتظره‌اش به افغانستان، از تمایل طالبان برای برقراری آتش‌بس سخن زد، اما اکنون شماری از اعضای پیشین گروهٔ طالبان در کابل می‌گویند، تا هنگامی‌که توافق صلح میان ایالات متحده و طالبان امضاء نشود و گفت‌وگوهای میان افغانان آغاز نشوند، این گروه به آتش‌بس تن نخواهد داد.

مولانا جلال‌الدین شینواری، لوی څارنوال دورهٔ طالبان گفته است: «اول توافق نامه امضاء می‌شود و پس از آن آتش‌بس اعلام می‌شود. منطق و اسرار بزرگ طالبان برای امضای توافق هم این است که این گروه از سوی امریکا اطمینان حاصل کند، اعتمادسازی شود و پس از آن آتش‌بس اعلام شود».

در عین حال برخی از منابع آگاه از گفت‌وگوهای صلح می‌گویند که نماینده‌گان امریکا با نماینده‌گان طالبان سرگرم گفت‌وگوهای غیررسمی در دوحه استند تا زمینه برای از سرگیری گفت‌وگوهای رسمی میان دوطرف فراهم گردد.

if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

## دریځ

### په دوحه کې کېدونکې پرمختګونه او په کابل کې لانجې

طالبان او امریکا دواړه مني چې دربدلې خبرې یې بیا پیل کړې دي. دغو خبرو ته د رسمي خبرو نوم نه ورکول کېږي، خو اوس د خبرو پر چوکاټ، شرطونو او په تکمیل شوې هوکړه کې پر ممکنه بدلونونو خبرې رواني دي. ټرمپ خبرو ته د اوربند شرط را مخکې کوي، خو طالبان وایي، د هوکړې له لاسلیک سره سم به اوربند وکړي. داسې ښکاري چې په راتلونکو څو ورځو کې به د امریکا او طالبانو خبرې رسمي شي او آن کېدای شي ژر هوکړه هم لاسلیک کړي. د امریکا او طالبانو هوکړه حتمي ده، خو دا چې څه ډول به وي، په ډاډ سره څه نه شي ویل کېدلی. اوس چې د امریکا او طالبانو معامله یا هوکړه حتمي ده، نو موږ څومره د دې هوکړې او معاملې راتلونکي ته تیار یو؟

په کابل او د دولت تر کنټرول لاندې سیمو کې فضا ټاکنیزو لانجو نیولې ده. لانجې هم ورځ تر بلې زیاتېږي او زیان یې عامو خلکو ته اوړي. دلته ولسمشر غني لا هم په دې هڅه کې دی چې په واک کې پاتې شي او د امریکا او طالبانو د هوکړې له عواقبو ناخبره پر ورو مسایلو ټینګار کوي. دې ټاکنیزې لانجې له موږ سترې او برخلیک ټاکونکې لوبې هېرې کړې دي. که د طالبانو او امریکا تر منځ سوله کېږي او هوکړه لاسلیک کېږي، واضح ده چې نه بیا د ولسمشر غني واکمنې دوام کوي او نه هم ټاکنې او پایله یې کومه مانا لري. که په دې ټاکنو کې څوک بریالي هم شي، نو رایې به یې تر نهو لکو کمې وي، نو پر داسې ټاکنو ټینګار د ولسواکۍ مسخره کول دي او ولسمشر ته به یې خلک بیا ولسمشر نه، بلکې اته لک مشر او یا نهه لک مشر وایي.

له بده مرغه دغو ټاکنو سیاسیون او افغانان لا زیات سره وېشلي هم دي، چې دې چارې په سوله کې د افغاني ګډو خوندي کولو ته هم زیان اړولی دی. که حکومت پر ټاکنو ځان نه وی بوخت کړی او سولې ته یې پام کړی وی، که سیاسیون له حکومت سره په ټاکنیزه لانجه کې نه وی، که ټولو سیاستوالو له حکومت سره په ګډه د سولې په برخه کې واحد دریځ خپلی کړی وی، نو هم به سوله شوې وای او هم به پکې افغاني ګټې خوندي شوې وی.

له بده مرغه پر ټاکنو ټینګار، ټاکنیزې لانجې او بیا په دغو لانجو کې د سیاستوالو او حکومت ښکېلتیا د دې سبب شوې چې موږ هم د سولې په برخه کې فرصتونه له لاسه ورکړو او هم په دې برخه کې په کېدونکو معاملو او هوکړه کې ځنګ ته پاتې شو. د بې مانا او بې ارزښته ټاکنو لانجه باید نوره ختمه شي او دا چپټر باید یو مخ وتړل شي. پکار ده چې سیاستوال او حکومت پر سوله ټینګار وکړي، واحد دریځ پیدا کړي او په ګډه د سولې لپاره کار وکړي. له دې پرته د امریکا او طالبانو معامله کېدونکې ده او هوکړه به لاسلیک کوي. بیا به سیاستوال هرو مرو تاوان کوي او ښایي ولس هم تاوان وکړي. له همدې امله پکار ده چې پر سوله تمرکز وشي، ملاتړ یې وشي او له طالبانو سره د جوړجاړي او ګډ راتلونکي لپاره پیاوړي ګامونه واخیستل شي.



# په افغانستان کې د چین فعالیتونه د پام وړ دي

لیکنه: وانګ یو؛ په افغانستان کې د چین لوی سفیر

پر دې ډېر ویاړم چې په افغانستان کې د چین د سفیر په توګه ګومارل شوی یم. کابل ته له رسېدو وروسته مې ډېری وخت دلته د افغان ټولنې له بېلابېلو ملګرو او دوستانو سره لیده کاته کړي دي. په دې لیدنو کتنو کې مې سولې او پرمختګ ته د افغانانو لېوالتیا او له چین سره د افغانانو دوستي لیدلې او احساس کړې مې ده. د اتلانو او زیارکښو خلکو دغه ځمکه سل کاله مخکې خپلواکه شوې ده، خو له بده مرغه په دې وروستیو ۴۰ کلونو کې جګړو سخته ځپلې ده.

ځینې افغان دوستان پوښتنه کوي چې ۱۸ کاله کېږي چې امریکا په افغانستان کې ده، خو دغه هېواد ته سوله، آرامي، سوکالي او پرمختګ نه دي راغلي، نو د دوی شعار ته په کتو، هغه ډیموکراسي، د بشر حقونه او ازادي چېرته دي؟ زه په دې اړه فکر کوم چې چین او نړیواله ټولنه څه ډول د افغانستان له سولې او بیارغونې سره اغېزمنه مرسته کولای شي.

څو ورځې وړاندې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د سویلي او منځنۍ اسیا د چارو مسوولې مېرمن آلېس وېلز ویلي وو چې چین د افغانستان په پرمختګ کې د پام وړ څه نه دي کړي، چین له افغانستان سره تر اوسه کومه مهمه مرسته نه ده کړې، د تګ راتګ او پیوستون په برخو کې یې د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان په پرتله کم کارونه کړي دي. ما د چین او افغانستان تر منځ د همکاریو په اړه معلوماتو ته یوه لنډه کتنه وکړه او دلته یې یو څو لنډې بېلګې لیکم.

د تېرې پېړۍ په ۷مه لسیزه کې په داسې حال کې چې چین پرمختګ نه و کړی او خلک یې لاهم له ډېرو ستونزو سره مخ وو، خو دغه هېواد په پروان ولایت کې د اوبو لګولو پروژه او په کندهار کې د میرویس روغتون جوړ کړ. ۴۰ کاله تېر شوي او د پروان د اوبو لګولو پروژه لا د بزګرو کروندې غړوبوي او میرویس روغتون د کندهار په ګډون، د نږدې ولایتونو خلکو ته روغتیایي خدمات وړاندې کوي. محلي وګړي یې په تودو احساساتو سره تر ننه د چیني روغتون په نوم یادوي.

له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې چین یو ځل بیا د افغانستان په بیارغونه کې ګډون کړی او تر خپلې وسې یې ورته په بېلابېلو برخو کې مرستې برابرې کړې دي. د چین له خوا جوړ شوی د جمهوریت روغتون په کابل کې تر ټولو لوی مجهز حکومتي روغتون دی. د کابل پوهنتون د چینایي ژبې ځانګې ودانۍ او مسلکي ښوونیز ملي مرکز د افغان ځوانانو، محصلینو او د وتلو مسلکي شخصیتونو د روزلو په برخه کې فرصتونه چمتو کوي. چین په ۲۰۱۴ ز کال کې ژمنه وکړه چې په څلورو کلونو کې به د افغانستان لپاره د دوو میلیاردو یوان مرسته برابره او تر سره کړي. د دې ژمنې په رڼا کې به د کابل پوهنتون عمومي تدریسي ودانۍ او د لوی تالار ودانۍ په راتلونکي کال کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي او د ارزانو کورونو پروژه به په راتلونکي کال کې پیل شي. دغه راز په بامیان ولایت کې د لمریزې برېښنا سټېشن د چمتو کېدو په حال کې دی. دا یوازې د چین د مرستو یوه برخه ده، د افغانستان اقتصادي او ټولنیز پرمختګ ته یې په نوي خوځنده قوت ورکولو کې د پام وړ او مثبت اغېز ښیندلی دی.

د دې تر څنګ، چین هر کال افغان ټولنې ته ډېرې بشري بېړنۍ مرستې برابروي. کله چې د زیاتو واورو او زلزلې ناورینونه رامنځ ته کېږي، چین د کمپلو، کېږدیو او جنراتورونو مرستې په لومړي وخت کې زیانمنو کسانو ته رسولې دي. له ۲۰۱۷ ز کال راهیسې د ۱۰۰ میلیونو یوانو په ارزښت وریجې او اوړه لس ځلې د افغانستان بېلابېلو ځایونو ته لېږل شوي او پر خلکو وېشل شوي دي. اوس پر ۱۱۵۰۰ کېږدیو سربېره، نورې مرستې هم چمتو شوې دي. کابو دوه سوه تنه ناروغ ماشومان چې د زړه سورې پر ناروغۍ اخته وو، په شینجیانګ کې یې درملنه شوې ده چې اوس دغه ماشومان ببخي روغ شوي دي. د چین سفارت هر کال د افغان یتیمانو له ښوونیزو مرکزونو، ښوونځیو او بې وزله کورنیو لپاره لازمې مرستې برابروي. د دې تر څنګ، موږ د چین او افغانستان د دوستۍ ښوونځی هم جوړ کړی دی. د افغانانو ګټې او نېکمرغي همېشه د چین د خلکو غوښتنه او هیله ده.

چین د افغانستان اقتصادي او ټولنیزې پراختیا او ودې ته هم پاملرنه کوي. په ۲۰۱۶ ز کال کې افغانستان له چین سره د یو کمربند او یوې لارې د ګډې ابادۍ د تفاهم تړون لاسلیک کړی دی. هیله من یو چې زموږ پرمختګ او پراختیا عامو افغان وګړو ته لازیاتې ګټې ورسوي. موږ غواړو چې د افغانستان او سیمه ییزو هېوادونو تر منځ د تګلارو، تاسیساتو، سوداګرۍ، پانګونې او ان د خلکو د زړونو پیوستون پیاوړی شي او د ورېښمو لارې په موده کې د اسیا زړه په توګه د افغانستان مرکزي رول بیا را ژوندی شي. موږ د چین پیاوړې تصدۍ هڅوو چې دلته پانګونې وکړي. د (زي ټي اي) (او هواوې) په ګډون، عالي تخنیکي شرکتونه د افغانستان د مخابراتي کارونو لپاره باکیفیته خدمتونه وړاندې کوي. د میس عینکو د کان پروژه چې په افغانستان کې تر ټولو لویه بهرنۍ پانګونه بلل کېږي، د تاریخي اثارو د ساتلو او امنیتي لاملونو په ګډون، له ځینو ستونزو سره مخ ده. د چین تصدۍ د ډېرو تاوانونو په ګاللو سره سره پر خپلو ژمنو ولاړې دي او د دې پروژې د بیا پیلولو لپاره د افغانستان له اړوندو څانګو سره سلا مشورې کوي.

د ازبکستان او تاجکستان له لارې د چین او افغانستان تر منځ اوسپنیزه لاره فعاله ده او د کابل او اورمچي تر منځ هره اونۍ الوتنه کېږي. د مېرمن وېلز نیوکو ته په کتو، زه غواړم له امریکایي کارپوهانو څخه وپوښتم چې په اوسنیو جغرافیایي او طبیعي حالاتو کې د چین او افغانستان تر منځ د مستقیمې اوسپنیزې لارې د ابادۍ شونتیا څومره ده؟

موږ چین ته د جلغوزیو، زعفرانو او مرمر په ګډون، د افغان ځانګړو تولیداتو د صادرولو زمینه برابره کړې ده. تېر کال یوازې په څلورو میاشتو کې د الوتکو له لارې د ۱۵ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت جلغوزي چین ته صادر شوي وو. د خبري رسنیو د معلوماتو له مخې، سږ کال د دواړو خواوو شرکتونو د ۳۰ زرو ټنو جلغوزیو تړون لاسلیک کړی دی، چې افغانستان ته یې ډېره ګټه رسېږي. سږ کال به د چین او افغانستان تر منځ تجارتي ارزښت له یو میلیارد او ۲۰۰ میلیونو امریکایي ډالرو څخه واوړي. چین یو ځل بیا د افغانستان درېیم لوی تجارتي ملګری ګرځېدلی دی. له ۲۰۱۵ ز کال راهیسې چین د افغانستان لپاره هم څه د پاسه ۴۰۰۰ تنه کدرونه روزلي دي.

په همدې بنسټ، موږ ویلی شو چې د افغانستان د سولې او پرمختګ لپاره د چین کارونه د پام وړ دي چې افغانان یې همویني او هېر به یې نه کړي. موږ غواړو له نړیوالې ټولنې سره یو ځای په ګډه د افغانستان لپاره مرستې برابرې کړو. چین او امریکا په تېرو اتو کلونو کې افغان ډیپلوماتان او ویترنران او د کرنیزو تولیداتو کارپوهان روزلي دي. دغه راز د لوړو زده کړو روزنیز کورسونه به هم پیل کړي. چین له المان، برېټانیا، پاکستان او هندوستان سره هم د افغانستان په اړه ګډې همکاریزې پروژې تر سره کړې او تر سره کوي یې. د دې تر څنګ، چین د افغانستان، پاکستان او امریکا په څلور اړخیز ارتباطي ګروپ، ((شپږ او یو)) او د امریکا، روسیې او پاکستان په څلور اړخیز مشورتي میکانېزم کې چې له افغان مسئلې سره تړاو لري، ګډون کړی دی، څو له نړیوالې ټولنې سره یو ځای ګډ نظریات راغونډ کړي، شته اختلافونه کم کړي او د افغان مسئلې د حل لپاره مناسبه لاره ومونډل شي.

د افغان مسئلې حل و فصل د کوم یو هېواد له خوا سمدستي نه شي کېدای. چین به تر خپلې وسې پورې د افغانستان لپاره لازمې مرستې برابرې کړي او هیله لري چې امریکا؛ افغانستان د همکاریو ډګر وبولي، نه د سیالیو او خپل قوت. امریکا باید له افغانستان څخه له دې ډېر ملاتړ وکړي.

زه به د خپل ماموریت په موده کې د افغانستان د ټولنې له بېلابېلو ملګرو سره یوځای په ګډه کوښښ وکړم، څو نړیواله ټولنه د افغانستان سولې او بیارغونې او د جوړجاړي له بهیر سره په ګډه کار وکړي.

## امریکا: د عراق سیاسي مشران دې ژر تر ژره د اعتراض کوونکو مشروع غوښتنې واوري



د امریکا متحده ایالتونو د عراق پر سیاسي مشرانو غږ کړی چې ژر تر ژره د اعتراض کوونکو مشروع غوښتنې واوري.

دا په داسې حال کې ده چې په عراق کې د اکتوبر له لومړۍ راهیسې زرګونو کسانو د بیو د لوړوالي، بې کارۍ او په دولت کې د پراخ اداري فساد پر ضد لاریونونه پیل کړي دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یوې ویاندې فرانس پرېس ته ویلي چې په عراق کې له اعتراض کوونکو سره چې مشروع اندېښنې لري، ګډ نظر لري.

د بهرنیو چارو وزارت ویاندې د عراق پر حکومت غږ کړی چې ژر تر ژره دې د بې کارۍ، اداري فساد او ټاکنیزو اصلاحاتو په ګډون، د لاریون کوونکو غوښتنې ومني.

د فرانس پرېس په حواله، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاندې په مستقیم ډول د عراق د لومړي وزیر عادل عبدالمهدي پر دې بیان چې له دندې به استعفا وکړي، تبصره نه ده کړې.

د راپورونو له مخې، په عراق کې په وروستیو دوو میاشتو کې د لومړي وزیر عادل عبدالمهدي د حکومت پر ضد په لاریونونو کې د امنیتي ځواکونو او لاریونوالو تر منځ په نښتو کې تر ۴۰۰ زیات لاریون کوونکي وژل شوي دي.

په ورته وخت کې عادل عبدالمهدي ورمه ورځ اعلان وکړ چې استعفا به پارلمان ته وړاندې کړي، څو هغوی د نوي حکومت پر ټاکلو کار پیل کړي.

د عبدالمهدي په دغه بیان کې واضح نه وو لیکل شوي چې هغه به څه وخت د استعفا لیک پارلمان ته استوي.

بلخوا د عراق د شیعه ګانو ستر مذهبي مشر، ایت الله علي السیستاني هم د لاریون کوونکو پر ضد د قوي استعمال غندلی او پر پارلمان یې غږ کړی چې د کابینې له ملاتړه لاس واخلي.

سیستاني همدا راز پر لاریون کوونکو هم غږ کړی چې تاوتریخوالی او ویجاړۍ دې نه کوي.

د راپورونو پر اساس، ورمه ورځ هم د عراق په ناصریه ښار کې پر اعتراض کوونکو د امنیتي ځواکونو په ډزو کې ۱۵ تنه ووژل شول.

د ناصریه ښار له پېښې یوه ورځ مخکې هم د لږ تر لږه ۴۰ لاریون کوونکو د وژل کېدو خبر خپور شوی و.

ایت الله علي السیستاني ویلي چې د عراق پارلمان چې حکومت یې جوړ کړی، باید پر خپلې ټاکنې له سره غور وکړي او هغه کار وکړي چې د عراق په ګټه وي.

په ورته وخت کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوترېش ویلي چې په عراق کې پر لاریون کوونکو د ډزو او له هغوی سره د روان تاوتریخوالي راپورونو اندېښمن کړی دی. د یادونې ده چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو تر دې مخکې ویلي وو چې که په عراق کې پر چارواکو ثابته شي چې د غلا له لارې یې پانګې جوړې کړې، بندیزونه به وربانديې ولګول شي.

# افغانستان؛
## د بې وزلۍ کچه او تیاره راتلونکې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

د خوړو خوندیتوب نړیوالې ډلبندۍ ادارې په خپل وروستي راپور کې کښلي، چې په افغانستان کې عام وګړي د خوړو خوندیتوب له سختو ننګونو او ګواښونو سره مخ دي. د دې اونۍ په تحلیل کې په افغانستان کې د بې وزلۍ کچې او په ځانګړې توګه د خوړو خوندیتوب په برخه کې پر شته او راتلونکو ګواښونو او د افغان دولت او نړیوالو مرستندویانو پر راتلونکو برنامو او تیاریو تر ځنګ، پر ځینو حللارو څېړنه شوې ده.

**په افغانستان کې د بې وزلۍ کچه**

که لږ ځیر شو، په افغانستان کې له تېرو څو لسیزو پرله پسې جګړو وروسته، د هېواد اقتصاد له سترو خنډونو سره مخ شوی دی. که څه هم تر ۲۰۰۰ ز کال را وروسته په مختلفو برخو کې ډېر کم پرمختګونه هم لیدل کېږي، خو بیا هم د اقتصاد وزارت د شمېرو له مخې، ۵۵ سلنه افغانان د بې وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي. په افغانستان کې له وروستیو څو لسیزو راهیسې، د جګړې د لمنې پراخېدل او وچکالي هغه ستونزې دي چې د هېواد اقتصادي پرمختګ یې ټکنی کړی او د عامو افغانانو د بې وزلۍ کچې په لوړولو کې یې تر ټولو قوي رول ادا کړی دی؛ خو بلخوا کله چې د طالبانو اسلامي امارت لمن له هېواد څخه ټوله او پر ځای یې د امریکا په مشرۍ د نړیوالې ټولنې ځینو هېوادونو ځواکونه او ادارې افغانستان ته راغلې او ولیدل شول چې ډېری عام افغانان له بهرنیو ادارو سره په مختلفو برخو کې پر کارونو بوخت شول او په دې توګه د بې کارۍ کچه هم په مصنوعي توګه تر ډېره ټیټه شوه؛ خو له ۲۰۱۴ ز کال را وروسته کله چې ډېری بهرني ځواکونه او ځینې بهرنۍ ادارې چې په هېواد کې یې عامو خلکو ته کاري فرصتونه برابر کړي وو، له افغانستانه ووتې او ولیدل شول چې د بې کارۍ کچه په یو ځل او ناڅاپي توګه خورا لوړه شوه. د نړیوالو مرستندویو ادارو د مرستو ټیټوالی او د نفوسو کچې لوړوالی نورې هغه ستونزې دي، چې د بې کارۍ کچې ګراف په لوړوالي کې ورځ تر بلې خپلې اغېزې رابرسېره کوي او عام افغانان د بې کارۍ له ننګونو سره مخ کوي.

**د خوړو خوندیتوب او د افغانستان خلک**

د خوړو خوندیتوب نړیوالې ډلبندۍ ادارې یا (Integrated Food Security Phase Classification (IPC) وروستي راپور له مخې، چې د ۲۰۱۹ ز کال د اګست او اکتوبر میاشتو په منځ کې پرې کار شوی، راغلي چې د افغانستان د ټول نفوس ۳۳ سلنه وګړي د خوړو خوندیتوب له سخت ګواښ سره مخ دي او اړینو انساني مرستو ته اړتیا لري. د بې کارۍ کچې لوړتیا، د عامو توکو بیو لوړوالی، جګړه، سیلابونه او وچکالي هغه لاملونه په ګوته شوي چې د عامو وګړو لپاره یې د خوړو خوندیتوب په برخه کې خنډونه رامنځ ته کړي دي.

په عامه توګه که د خوړو خوندیتوب تعریف ته وکتل شي، د ۱۹۹۶ ز کال د خوړو نړیوالې ناستې له مخې «په هر وخت کې په فزیکي، ټولنیزه او اقتصادي توګه مناسبو او خوندي خوړو ته د عامو وګړو لاسرسی، د خوړو خوندیتوب بلل کېږي»، چې افغان وګړي د یاد تعریف له مخې رښتیا هم د خوړو له سختو ګواښونو سره مخ دي.

یاده اداره چې له ۲۰۱۱ ز کال راهیسې په افغانستان کې فعالیتونه تر سره کوي، د روان کال راپور یې د تېرو کلونو په پرتله یو څه هر اړخیز او د هېواد په کچه چې کلیوالې او ښاري سیمې پکې هم رانغښتل شوې، تر سره شوی دی. راپور ته په کتو، د خوړو خوندیتوب په برخه کې سږ کال ځینې ښه پرمختګونه هم تر سره شوي دي، خو بیا هم د ځینو نورو ستونزو تر څنګ، د نفوسو کچې لوړوالی او جګړه د هغو لاملونو په توګه تر سترګو کېږي چې کولی شي په راتلونکي کې د خوړو خوندیتوب په برخه کې عام افغانان له نورو سختو ننګونو او ګواښونو سره مخ کړي.

د یادې ادارې د وروستي راپور پر بنسټ، په هرو لسو کورنیو کې شپږو کورنیو د خوړو خوندیتوب په برخه کې له ننګونو او ستونزو څخه یادونه کړې. د وردګ، نورستان، بامیان، فراه، هلمند، فاریاب او غور ولایتونو وګړي بیا د هېواد په کچه د خوړو خوندیتوب په برخه کې تر ټولو ډېرو ستونزو او ننګونو یانې له ۸۰ سلنې زیات وګړي په یادو ولایتونو کې د خوړو له نه خوندیتوب څخه اغېزمن شوي دي. ۲۹ سلنه عامو وګړو خپلې کاري بوختیاوې له لاسه ور کړې او ورځنی عاید یې ۲۵ سلنه را ښکته شوی چې یادو دوو ستونزو تر ډېره په یادو ولایتونو کې خلک په اقتصادي توګه سخت ځپلي دي.

نږدې نیمایي (۴۷) سلنه هغو کورنیو چې له راپور جوړوونکو سره یې د معلوماتو په شریکولو کې مرسته کړې، ویلي چې د کورنیو عاید یې د تېر کال په پرتله خورا ډېر راښکته شوی او یادو کورنیو ویلي چې د کورنیو عاید په ټیټوالي کې یې ۶۰ سلنې بې کارۍ او ۲۵ سلنې جګړې رول لوبولی دی.

په افغانستان کې ۱۱.۸ سلنه وګړي د رسمي بوختیاوو تر سره کولو معاش یا تنخوا، ۲ سلنه وګړي له هغو پیسو څخه چې د کورنۍ غړي یې په بهرنیو هېوادونو کې له کار تر سره کولو وروسته خپلو کورنیو ته رالېږي، او پاتې ستره سلنه وګړي د کرنې او مالدارۍ برخه کې له بوختیاوو څخه خپلې ورځنۍ اړتیاوې پوره کوي.

**د بې وزلۍ کچه او تیاره راتلونکې**

د IPC اټکل له مخې، د روان کال له نومبر میاشتې څخه د ۲۰۲۰ ز کال تر مارچ میاشتې پورې، ۱۱.۲۹ میلیونه خلک چې د هېواد د نفوس ۳۷ سلنه جوړوي، ښایي د خوړو نه خوندیتوب له سختو ننګونو سره مخ شي. که څه هم هېواد د ۲۰۱۸ ز کال له وچکالۍ څخه د راوتلو په حال کې لیدل کېږي، خو بیا هم په هېواد کې امنیتي ستونزې هغه څه دي چې په ډېریو سیمو کې یې عام وګړي له خپلو سیمو څخه نورو سیمو ته په بې ځایه کېدو او کډه کولو اړ کړي دي. یوازې په روان کال کې شاوخوا ۳۵۵۰۰۰ وګړي د امنیتي ستونزو له کبله بې ځایه شوي دي او په دې توګه د هغو سیمو وګړي چې داخلي بې ځایه شوي وګړي ور کډه شوي، د لا زیاتې بې کارۍ کچې سره مخ شوي او په پایله کې د خوړو خوندیتوب له ستونزو څخه سر ټکوي.

د قحطۍ د وړاندوینې سیستم شبکې (Famine Early Warning Systems Network) له مخې، ښایي په هېواد کې د روان کال له نومبر میاشتې څخه د ۲۰۲۰ ز کال تر مارچ میاشتې پورې، د اورښتونو کچه په اوسط ډول تر سره شي، چې د اورښتونو کچه کولی شي د هېواد په مختلفو سیمو کې اغېزې ولري. د بېلګې په توګه، هغه سیمې چې کېدلی شي هلته د کرنې په برخه کې عام افغانان ښې لاسته راوړنې ولري او هلته د کرنې لپاره پراخې ځمکې شته، لیدل کېږي چې د هغو سیمو اوسېدونکو د جګړې له وېرې خپلې سیمې پرې ایښې او نه شي کولی هلته خپل کرنیز فعالیتونه تر سره کړي، چې دا بیا د هېواد پر کرنیز سکټور نه یوازې بده اغېزه کولی شي، بلکې د هغو سیمو خلکو په بې کارۍ کې ستره ونډه لوبوي.

د خوراکي توکو بازار ته د عامو وګړو نه لاسرسی او د ژمي په موسم کې د واورو ورېدو او د لویو لارو بندېدو له کبله د هېواد ځینې سیمې لکه د غور او بدخشان ولایتونو زیاترو سیمو اوسېدونکي نه یوازې د خوراکي توکو له کمښت سره مخ کېږي، بلکې د ژمي موسم له ختمېدو وروسته د تودوخې درجې د لوړوالي او واورو ویلې کېدو په پایله کې د هېواد د هغو سیمو کرنیزې ځمکې د سیلابونو ښکار کېږي، چې کولی شي د عامو وګړو لپاره د خوراکي توکو په برابرولو کې اغېزمنې واقع شي.

بلخوا د قزاقستان هېواد چې د افغانستان د غنمو په مارکېټ کې ستره ونډه لوبوي، د یاد هېواد هغه سیمې چې غنم پکې کرل کېږي، ښایي د اورښتونو کچې لږوالي له امله د غنمو تولید کچه هم را ښکته شي، چې په پایله کې کولی شي افغانستان ته له یاد هېواد څخه د غنمو واردولو بیه لوړه کړي او دا کار هم کولی شي د عامو افغانانو د بې وزلۍ کچې په لوړوالي کې ونډه ولوبوي، چې افغان دولت یې باید په اړه اړین ګامونه پورته کړي، چې تر اوسه یې کوم څرک نه لیدل کېږي.

**پایله**

افغان دولت چې په اوس کې یې ټوله توجه د دولت مخالفینو سره د جګړې، د تر سره شویو ټولټاکنو پایلو او افغان سولې په اړه د امریکا او طالبانو تر منځ وروستیو ناستو او خبرو اترو ته ګرځولې، د هېواد په سطحه د بې کارۍ کچې لوړوالي او هغو ننګونو ته چې کولی شي په راتلونکي کې عام افغانان د خوراکي توکو له نور ډېر کمښت سره مخ کړي، په هغه ډول پاملرنه نه ده کړې او نه یې په راتلونکي کې کوم ځانګړی څرک لیدل کېږي. افغان چارواکي اړ دي څو د بې کارۍ کچې ګراف راټیټولو ته ځانګړې پاملرنه وکړي او د هغو نړیوالو مرستندویانو مرستې چې مخکې یې هم له افغانستان سره په مختلفو برخو کې انساني مرستې کړې دي، د هغوی مرستې او په ځانګړې توګه د کرنې په برخه کې هر اړخیزې او اغېزمنې مرستې را جلب کړي. بلخوا ځینو هېوادونو په ځانګړې توګه سعودي عربستان، عربي متحده امارتو، قطر... ته د رسمي وړاندیزونو کولو او له هغوی سره د افغان بشري ځواک ګومارلو په برخه کې ځینې تړونونه کول، کولی شي په لنډمهال کې له یوې خوا د بې کارۍ کچې ګراف په ښه او اغېزمنه توګه را ښکته کړي او له بلې خوا د هغو زیات شمېر افغان ځوانانو ژوند چې بهرنیو هېوادونو ته له قاچاقي لارو څخه تلل غواړي، هم وژغوري. په اوږدمهال کې دولت او اړوندې ادارې باید د کرنې سکټور ته خپله جدي پاملرنه واړوي، دا ځکه چې په هېواد کې د کرنې سکټور پیاوړي کولو لپاره له یوې خوا پراخې ځمکې او له بلې خوا د اوبو ستر نعمت شتون، چې کېدلی شي د هر اړخیزې سولې تر سره کېدو وروسته، له بهرنیو هېوادونو څخه د غنمو او نورو کرنیزو توکو لکه وریجو واردولو ځای د هېواد صادرات ونیسي، چې د هېواد د اقتصادي پرمختګ لامل ګرځېدلی شي.

# د ولسمشریزو ټاکنو نامعلوم برخلیک؛
## کمېسیون د دوو میاشتو په تېرېدو بیا هم
## د لومړنیو پایلو پر اعلان بریالی نه شو



سره له دې چې له ولسمشریزو ټاکنو دوې میاشتې تېرېږي، خو لا هم د پایلو برخلیک روښانه نه دی. د ټاکنو خپلواک کمېسیون درې ځله د لومړنیو پایلو د اعلان په تړاو خپله ژمنه ماته کړه، خو لا هم د پایلو د اعلان برخلیک روښانه نه دی او د هېواد وضعیت ورځ تر بلې ترینګلی کېږي. د ټاکنو د پایلو پر اعلان او د ټاکنو کمېسیون د ځینو کړنو پر خلاف لاریونونه او اعتراضونه هم شوي دي، خو کمېسیون وایي چې دوی قوانینو ته ژمن دي او قانون ته په کتو خپلې چارې مخ ته وړي. ولسي جرګې او څارونکو بنسټونو هم د پایلو د اعلان پر ځنډ اندېښنه ښودلې ده.

وړمه ورځ د ثبات او همپالنې ټاکنیز ټیم په کابل کې لاریونونه وکړل. دوی ادعا کوله چې د ټاکنو کمېسیون د یوې ځانګړې ټاکنیزې ډلې فرمایشونه عملي کوي او باید خپل بې پرېتوب وساتي. بل پلو دوی د نږدې ۳۰۰ زرو رایو د باطلولو غوښتنه کوله. د دوی په خبره، دا هغه رایې دي چې باید باطلې اعلان شي، ځکه د ټاکنو کمېسیون له لوري ټاکل شوي طرزالعملونه یې په کارېدنه کې نه دي عملي شوي. دوی د ساعتونو لپاره د کابل لارې او کوڅې بندې کړې وې او د ټاکنو کمېسیون او فساد ضد شعارونه یې ورکول.

له دې سره هممهاله پرون ولسي جرګې هم په امتیازي ساعت کې د ټاکنو د پایلو پر نه اعلان اعتراضونه کول. وکیلانو ویل چې د پایلو په اعلان کې ځنډ د هېواد او ولس په ګټه نه دی او د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید ژر تر ژره لومړنۍ پایلې اعلان کړي. وکیلانو دغه راز له کمېسیون وغوښتل چې بې پلوه پاتې شي او خپل استقلالیت وساتي. د ولسي جرګې مشر میر رحمان رحماني بیا وویل چې سړکونه د زور ازمویلو ځای نه دی. د ده په خبره، د ټاکنو کمېسیون باید د قانون له مخې عمل وکړي، بې پرې وي او همدا راز دې د خلکو غوښتنو او نظرونو ته هم پام وکړي. رحماني وویل: ((د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې د ټاکنو د کمېسیون پر وړاندې پروني اعتراضونه باید موږ ته د خطر زنګ وي. اعتراضونه او لاریونونه د خلکو مدني حق دی او د دوی مشروع غوښتنو ته باید پام وشي، خو پر واټونو د زور ازمایلو دوام د هېچا په ګټه نه دی او ټاکنیز کمېسیونونه دې د شفافیت ډاډ ورکړي چې د خلکو له رایو سره خیانت نه کوي، دوی باید په بې پرېتوب دا ثابته کړي چې د ټاکنو شته تګ لارې روڼوالی تضمینولی شي)).

خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا وایي چې دوی خپل فعالیتونه د قانون مادو ته په پام مخ ته وړي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون اعتراضونه د خلکو قانوني حق بللی او په خبره یې، دوی د ولس نظرونو او وړاندیزونو ته درناوی لري، خو هېچا ته اجازه نه ورکوي چې د ټاکنو په پروسه کې مداخله وکړي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون په اعلامیه کې راغلي، چې دوی ته یوازې بایومټریک شوې رایې د باور وړ دي.

بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوه کمېشنر بیا له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې په اووه ویشتو ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرنې پروسه بشپړه شوې ده او اوس د کمېسیون د غړو تر منځ د لومړنیو پایلو د اعلان پر وخت او څرنګوالي بحثونه روان دي. د اورنګزیب په خبره، په پاتې ولایتونو کې هم د رایو د بیاشمېرنې پر څرنګوالي خبرې کېږي او نن (یکشنبه) به کمېسیون په دې تړاو پرېکړه کوي. اورنګزیب وایي چې ډېر ژر به د ټاکنو خپلواک کمېسیون د لومړنیو او وروستیو پایلو د اعلان په اړه خپله پرېکړه اعلان کړي.

کمېسیون داسې مهال ژر تر ژره د پایلو د اعلانېدو خبره کوي چې په ځلونو یې پر خپلو ژمنو عمل نه دی کړی او د دوو میاشتو په تېرېدو بیا هم د لومړنیو پایلو پر اعلان بریالی نه شو. دا مسئله پر ټاکنو د څارونکو بنسټونو له غبرګون سره هم مخ شوې ده.

د ټیفا اجرایي رییس نعیم ایوب زاده وایي، یوه غونډه باید جوړه شي چې د کمېسیون ستونزې واورېدل شي او حللارې ورته پیدا شي. هغه وایي: ((د پایلو په اعلان کې ځنډ د ټولو په زیان دی. باید ملګري ملتونه او نوماندان یوه غونډه جوړه کړي. کمېسیون دې خپلې ستونزې ووایي، څو حللاره ورته پیدا شي)).

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**درېیمه برخه**

**افغانستان**

### نهم څپرکی

### په لویه پکتیا کې قومونه، کمونېستان او د جهاد نسل




د ۱۹۸۰ز کال د سپټمبر پر ۱۴مه، د افغانستان د کمونېست رژیم د قومونو او قبایلو وزیر فیض محمد، د سویل ختیځ د یوې لیرې سیمې، وازي ځدراڼ د یوه برید په ترځ کې ووژل شو. که څه هم د هغه د وژلو پړه د مجاهدینو ډېرو ډلو پر غاړه واخیسته، خو له لمر روښانه وه چې هغه د جلال الدین حقاني له لوري ووژل شو.
د فیض محمد تر وژل کېدو څو ورځې وړاندې، هغه په ګردېز کې و، هلته یې له قومي مخورو او ولسي خلکو سره کتل. د نوموړي موخه دا وه چې د ځدراڼو قوم، خلک د پاکستان له لوري کېدونکې جګړې څخه را وګرځوي. هغه له ځایي دود سره سم، د اسلامي لاسوندونو او پښتونولۍ له لارې د کمونېست رژیم مخالف قومي مشران هڅول چې ملاتړ یې وکړي. هغه د ځدراڼو غرنیو کلیو ته د ورتګ بلنه ومنله، د هغوی د مېلمه پالنې د لا ډاډ له پاره یې خپل امنیتي کسان هم ډېر نه کړل.
د فیض محمد له وژلو سره په پکتیا کې حالات لا پر شا لاړل. هغه دودیزې لارې ناکامې شوې چې له مخې یې قومي مخور د مرکزي حکومت ملاتړ ته هڅول کېدل. په ځانګړې توګه د فیض محمد په وژلو سره د کمونېستي راډیکال او اسلامي افراطیت تر منځ جګړه لا تونده شوه، پر قومي یووالي او ټولنیزو اړخونو یې بده اغېزه وکړه چې په ترځ کې یې جګړه دریو لسیزو ته وغزېده.
فیض محمد په خپلو هڅو، بخت او ځایي کاریزما باندې ډېرې بریاوې ترلاسه کړې وې. هغه په ۱۹۴۰ز لسیزه کې د سویلي وزیرستان په یوه غریبه محسوده (مسیده) کورنۍ کې زېږېدلی و. د هغه د قوم نارینه وو د انګرېزانو پر ضد جګړه کې هم ونډه اخیستې وه. د فیض محمد د زېږېدو پر مهال ډېرو کمو وګړو عصري زده کړو ته لاسرسی لاره.
په ۱۹۴۹ز کال هغه د وزیرستان له یو شمېر نورو هلکانو سره کابل ته ولېږل شو. نوموړی اووه کلن و چې له قبایلي سیمو څخه له یو شمېر نورو زده کوونکو سره د کابل په خوشال خان لیسه کې شامل شو. دا ښوونځی د افغانستان شاهي دربار د ختیځو سیمو پښتنو د ماشومانو او ځوانانو لپاره جوړ کړ، هغوی د درانیو د مصاحبو له کورنۍ سره په ۱۹۲۹ز کال واک ته په رسېدو کې مرسته کړې وه. فیض محمد له ښوونځي څخه تر فراغت وروسته په ۱۹٦۰ز کال د افغان پوځیانو د روزنې په اکاډمۍ کې شامل شو. درې کاله وروسته فارغ شو، سمدستي یې د کماندو ځواکونو په لېوا کې د خورد ضابط په توګه دنده پیل کړه. د نورو افغان افسرانو په څېر فیض محمد هم په ۱۹٦۸ز کال شوروي اتحاد ته د نورو زده کړو او روزنې لپاره ولېږل شو. هلته د روسي ځانګړو ځواکونو په اکاډمۍ کې له کمونېزم سره اشنا شو. کله چې هېواد ته ستون شو، سمدستي یې د خلق دیموکراتیک ګوند په پرچم ډله کې غړیتوب واخیست. هغه د کماندو ځواکونو د قوماندان مرستیال شو.
په ۱۹۷۲ز کال فیض محمد د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د کاکا له زوی، لومړي وزیر سردار محمد داوود خان سره اشنا شو. هغه مهال چې څه باندې یوه لسیزه داوود خان له حکومت بهر او پر ارګ د کودتا پر دسیسه بوخت و. په ۱۹۷۳ز کال فیض محمد د داوود خان د کودتا یو مهم لوبغاړی و. د کودتا د یوه ګډونوال په وینا چې هغه د وزیرانو د نیولو ډلې ته وسلې وېشلې. کودتا د هغو کمونېستي افسرانو پر لاس پیل شوه چې په ۱۹۵۰ز لسیزه کې یې د داوود خان پر لاس په شوروي اتحاد کې زده کړې کړې وې. کله چې اعلحضرت محمد ظاهر شاه له کومې جګړې پرته واک سردار محمد داوود خان ته پرېښود، فیض محمد د هغه په کابینه کې د کورنیو چارو وزیر شو. دا یوه ډېره مهمه دنده وه، له یوې خوا یې پر پولیسو، بل لور یې په ځایي او سیمه ییزو ادارو کنټرول لاره.
له ۱۹۷۵ز کال مخکې داوود خان له خپلې کابینې څخه د پرچمیانو د لیرې کولو لړۍ پیل کړه چې په پایله کې یې فیض محمد د قومونو او قبایلو چارو وزیر شو. په ۱۹۷٦ز کال هغه نور هم ټیټې دندې ته لاړ او په اندونیزیا کې د افغانستان د سفیر په توګه وګمارل شو. دا ډول مقرري د افغانستان د سیاسي دود یوه برخه وه چې کله به یې څوک له واک څخه لیرې کاوه نو به یې بهر ته ولېږه.
د ۱۹۷۸ز کال په اپرېل کې محمد داوود خان د خلق دیموکراتیک ګوند د خلقي ډلې له لوري کودتا کې ووژل شو، له دې سره ټول واک د کمونېستانو لاس ته ولوېد. له کودتا وروسته خلقیان او پرچمیان له یو بل سره یو ځای شول، خو یووالي یې ډېر دوام ونکړ. په پایله کې یې فیض محمد یو ځل بیا بهر کې پر دنده وګمارل شو، نوموړی د عراق په چارو کې د افغانستان استازی مقرر شو، خو ډېر ژر بېرته کابل ته راغی. د ۱۹۷۸ز کال په وروستیو کې یو ځل بیا د قومونو او قبایلو چارو د وزیر په توګه وګمارل شو. هغه ته دنده ورکړل شوې وه چې د خلکو غبرګونونه د رژیم پر وړاندې غلي کړي.

**دوام لري...**

# تابش پوهنتون

حمیدالله حمیدي




تابش پوهنتون په ۱۳۸۸ لمریز کال کې د یوه انسټېټیوټ په کچه په ښوونیزه برخه کې فعالیت پیل کړی دی. د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ یې د لوړو زده کړو موسسې ته ارتقاع کړې ده او بالاخره یې د ۱۳۹۵ لمریز کال په وروستیو کې د لوړو زده کړو له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع وکړه. د دغه پوهنتون مالي او اداري مرستیال ښاغلی فرهاد جمشید وایي، تابش پوهنتون اوسمهال څلور پوهنځي(اقتصاد، حقوق او سیاسي علوم، شرعیات او ژورنالېزم) لري. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په ۱۳۸۸ لمریز کال کې د دوو ډیپارټمنټونو (قضا او څارنوالۍ او اداري او ډیپلوماسۍ) په لرلو سره د تابش پوهنتون په چوکاټ کې فعالیت پیل کړ. د اقتصاد پوهنځی یې بیا درې ډیپارټمنټونه لري. د تابش پوهنتون د ژورنالېزم پوهنځی په ۱۳۸۹ لمریز کال کې د دوو ډیپارټمنټونو په درلودلو سره تاسیس شوی دی او د یاد پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی په ۱۳۹۰ لمریز کال کې د دې پوهنتون د دریو نورو پوهنځیو تر څنګ، د دوو ډیپارټمنټونو (فقه او قانون او حدیث او تفسیر) په درلودلو سره تاسیس شوی دی. ښاغلی جمشید وایي، د کلونو په اوږدو کې یې د محصلینو شمېر توپیر کوي، خو اوسمهال د یاد پوهنتون په څلورو فعالو پوهنځیو کې د ۱۳۰۰ په شاوخوا کې محصلین زده کړې کوي، چې له دې ډلې ۲۵۰ یې ښځینه او پاتې یې نارینه محصلین دي.

په تابش پوهنتون کې د ورځې دوه وخته تدریس کېږي چې لومړی پړاو یې د سهار اته بجې پیلېږي او د غرمې تر دوولسو بجو پورې دوام کوي او دویم پړاو یې بیا د مازیګر پنځه بجې پیلېږي. دا چې په خصوصي پوهنتونونو کې تر ډېره هغه کسان زده کړې کوي چې ډېری د ورځې په اوږدو کې په دولتي او غیر دولتي ادارو او یا نورو برخو کې پر کار بوخت وي، نو یاد پوهنتونونه اړ دي چې د محصل له خوښې سره سم ورته درسي وختونه برابر کړي. ښاغلی فرهاد جمشید وایي، په څینو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرام د پیل کولو هوډ لري، کارونه یې تر یوې کچې مخه ته تللي، خو په عملي ډول یې تر اوسه په دې برخه کې فعالیت نه دی پیل کړی.

دی وایي، تر اوسه یې په اتو دورو کې چې راتلونکې دوره به یې نهمه دوره وي، لږ تر لږه ۳۰۰۰ محصلین له خپلو څلورو پوهنځیو څخه د لېسانس په کچه فارغ کړي دي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. تابش پوهنتون پر کابل سربېره، په میدان وردګو ولایت کې هم څانګه لري. د دغه پوهنتون مالي او اداري مرستیال وایي، د میدان وردګو ولایت په یاده څانګه کې په حقوقو او سیاسي علومو او دغه راز په اقتصاد پوهنځیو کې د ۲۰۰ په شاوخوا کې محصلین لري. دی وایي، کولی شي په شرعیاتو او ژورنالېزم پوهنځیو کې هم محصلین جذب کړي، خو تر اوسه پورې د فعالو همدې پوهنځیو مینهوال زیات ي. ښاغلی جمشید وایي، دا چې د هېوادوالو اقتصادي وضعیت ښه نه دی، نو دوی هم د نورو خصوصي پوهنتونونو په څېر خپلو محصلینو ته تخفیف ورکوي، څو وکولی شي خپلې لوړې زده کړې مخ ته یوسي. هغه وایي چې په شرعیاتو او ژونالېزم پوهنځیو کې محصلینو ته ځانګړی تخفیف ورکوي او تر څنګ یې د محصلینو اقتصادي وضعیت ته په کتو، په نورو دوو پوهنځیو کې هم محصلینو ته تخفیف په پام کې نیول شوی دی.

تابش پوهنتون په خپل چوکاټ کې دوه کتابتونونه لري، چې د اتو زرو په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه پکې موجود دي. ښاغلی جمشید وایي، د پوهنځیو اړوند او دغه راز نور علمي کتابونه یې په کتابتونونو کې ځای پر ځای کړي دي، چې محصلین او استادان یې کولی شي وخت نا وخت له دې کتابونو څخه ګټه واخلي. دی وایي، دا چې د کتابونو شمېر یې زیات دی، نو د نورو پوهنتونونو محصلین هم راځي او له دې کتابتون څخه ګټه اخلي. یاد پوهنتون په کور د ننه او بهر کې له څینو پوهنتونونو سره علمي اړیکې او هوکړې هم لري. ښاغلی فرهاد وایي، په هندوستان او قزاقستان کې له څینو پوهنتونونو سره هوکړې لري چې محصلین یې د علمي سفر لپاره ورځي او په څینو ورکشاپونو کې یې برخه اخلي. دی وایي، په کور د ننه هم له دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره علمي اړیکې لري، چې د دې پوهنتونونو محصلین ډېر کله راځي او د دوی له کتابتون څخه ګټه اخلي.

ښاغلی فرهاد جمشید وایي، په جرئت سره ویلی شي چې تابش پوهنتون یو له هغه پوهنتونونو څخه دی، چې د لوړو زده کړو وزارت معیارونه یې پوره کړي دي او خپلو فارغ شویو محصلینو ته هغه ډیپلومونه وېشي چې د لوړو زده کړو وزارت له لوري ورته ورکړل شوي دي. دغه پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلین په کابل کې محکمو ته د عملي زده کړو لپاره ور استوي، د ژورنالېزم پوهنځي لپاره مجهزه سټوډیو لري، د اقتصاد پوهنځي محصلین اړوندو ادارو ته د عملي کار لپاره ور معرفي کوي او د شرعیاتو پوهنځي محصلین هم ډېر کله هغه تمثیلي محکمو ته ور غواړي، چې په حقوقو پوهنځي کې جوړېږي. نوموړی وایي، په ټوله کې یې د محصلینو لپاره د نظري زده کړو تر څنګ، د عملي زده کړو زمینه هم برابره کړې ده.

په تابش پوهنتون کې د تدریس چارې د ۹۰ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې په دې ډله کې ۱٦ یې ښځینه استادانې دي. ښاغلی فرهاد جمشید وایي، استادان یې د دوکتورا او ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري او د پوره تجربې درلودونکي دي.

د تابش پوهنتون اداره وایي، غواړي د خپلو خداماتو کچه نوره هم لوړه کړي او په راتلونکي کې د نورو نویو پوهنځیو تر څنګ، په څینو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرامونه هم پرانیزي او په دې برخه کې د افغان ځوانانو لپاره مناسب امکانات برابر کړي. د دې پوهنتون مالي او اداري مرستیال وایي، یوازینۍ ستونزه یې په لوړو زده کړو وزارت کې د فارغ شویو محصلینو د تحصیلي اسنادونو په تایید کې ځنډ دی. دی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې په یاده برخه کې ور سره همکاري وکړي، څو پر وخت محصلینو ته تایید شوي اسنادونه وسپاري او ګټه ترې واخلي. د خصوصي پوهنتونونو اتحادیه هم وایي، چې د ۱۳۱ په شاوخوا کې خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو لپاره په لوړو زده کړو وزارت کې یو ریاست چې د ګوتو په شمېر کار کوونکي لري، نه شي کولی پر وخت د دوی کارونو ته رسېدنه وکړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,٦٥ |
| € | ۸٦,۸۰ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۱ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# برای مقابله با آلودگی هوا چه بخوریم؟

ترجمه: احمد فردوسی

هوای آلوده‌ای که تنفس می کنیم اوزون، نایتروجن دی‌اکسید، ذرات حاصل از اگزوزهای دیزل و ذرات مختلف دیگر را وارد ریه‌های ما می‌کند. آنتی اکسیدان های محافظی که در دیواره‌ی ریه قرار دارند، تا زمانی که تعدادشان از این ذرات بیشتر باشد، به مقابله می‌پردازند؛ اما بعد از آن مواد آلاینده شروع به حمله به سلول‌های ایمنی بدن می کنند و رادیکال آزاد تولید می‌کنند که همین باعث التهاب می‌شود. اما آیا می‌دانستید که آنتی‌اکسیدان‌های موجود در مواد غذایی از بدن شما در برابر آثار مخرب آلاینده‌های هوا محافظت می کنند؟ اما برای مقابله با آلودگی هوا چه بخوریم؟ چه خوراکی‌هایی از ما در برابر آلاینده‌ها محافظت می کنند؟ برای مقابله با آلودگی هوا، بهتر است مصرف این آنتی‌اکسیدان‌های مغذی را که در ادامه معرفی می کنیم، در دستور رژیم غذایی خود قرار دهید. با ما همراه باشید.

**۱.ویتامین سی(C)**

ویتامین C توانمندترین آنتی‌اکسیدان موجود در بدن است. این ویتامین محلول در آب در همه جای بدن حضور دارد و رادیکال‌های آزاد را از بین می‌برد. ویتامین سی همچنین به بازتولید ویتامین E کمک می کند. وجود ویتامین C کافی در رژیم غذایی روزانه برای حفظ میزان این ویتامین در ریه‌ها ضروری است. بزرگسالان می‌باید روزانه ۴۰ میلی گرم از این ویتامین مصرف کنند.

۱. برگ گشنیز، برگ درخت گز روغن، جعفری، برگ کلم و شلغم سبزیجاتی هستند که باید برای تأمین ویتامین C مورد نیاز بدن خود از آنها استفاده کنید.



۲. گوجه فرنگی و گواوا سرشار از ویتامین C هستند.

۳. راحت‌ترین راه برای دریافت ویتامین C، مصرف روزانه ۲ عدد لیمو است.

۴. مرکبات نیز در تأمین ویتامین C نقش دارند.

**۲.ویتامین E**

این ویتامین محلول در چربی در خط مقدم دفاع در برابر صدمات وارده بر بافت‌های بدن قرار دارد.

۱. ویتامین E رژیم غذایی ما معمولاً از گیاهان تشکیل‌دهنده‌ی روغن‌های نباتی به دست می‌آید. آفتابگردان، گلرنگ و روغن سبوس برنج، بهترین تأمین کننده‌ی ویتامین E هستند پس از آنها کلزا، بادام زمینی و روغن زیتون قرار دارد.

۲. بادام و دانه‌های آفتابگردان نیز از منابع خوب ویتامین E محسوب می‌شوند. دانه‌ها و آجیل چربی بالایی دارند، پس مصرف ۲۸ گرم از این مواد غذایی در روز کفایت می کند.

۳. در میان ماهی ها، مصرف سالمون، اشپل و مارماهی برای تأمین ویتامین E توصیه می‌شود.

۴. ادویه‌جات و گیاهانی مانند پودر فلفل، پاپریکا، میخک، پونه کوهی، ریحان و جعفری به میزان خوبی ویتامین E دارند. معمولاً از بیشتر این ادویه‌جات به میزان کمی مصرف می‌شود. اضافه کردن مقداری از این ادویه‌ها و گیاهان به غذاهای‌تان به حفظ میزان ویتامین E بدن کمک می کند.

**۳.بتاکاروتین**

بتاکاروتین به دلیل داشتن فعالیت آنتی‌اکسیدانی نقش بسیاری مهمی در کنترل التهاب ایفا می کند. همچنین این ماده در بدن به ویتامین A تبدیل می‌شود.

۱.سبزیجات برگی مانند گل تاج‌خروس، گشنیز، شنبلیله، کاهو و اسفناج سرشار از بتاکاروتن هستند.

۲. برگ تربچه و هویج نیز از منابع خوب بتاکاروتن محسوب می‌شوند.

**۴. چربی‌های اُمیگا۳**

این چربی‌ها در برابر اثرات آسیب‌زای آلودگی هوا بر روی سلامت قلب و پروفایل چربی محافظت می کنند. منابع این مواد عبارتند از:

۱.دانه‌ها و آجیل‌هایی مانند گردو، تخم چیا و تخم کتان. آنها را به ماست اضافه کنید، یا در اسموتی خود مقداری از آنها بریزید.

۲. دانه‌ی شنبلیله، دانه‌ی خردل، سبزیجات برگ سبز، نخود و لوبیا قرمز از مواد غذایی تأمین کننده‌ی امگا۳ هستند.

**راهکارهای طب آیورودا**

در طب آیورودا برای درمان بیماری های تنفسی، گیاهان و ادویه‌جات خاصی توصیه می‌شود.

۱. زردچوبه آنتی‌اکسیدان معروفی است که گفته می‌شود از ریه‌ها در برابر آلاینده‌های سمی محافظت می کند.

۲. ترکیب زردچوبه و روغن حیوانی کرمانشاهی برای درمان سرفه و درمان آسم مفید است. در هنگام حملات آسمی، ترکیب زردچوبه با شکر زرد و روغن به کاهش علائم بیماری کمک می کند.

۳. گفته می‌شود که حل کردن شکر زرد در آب پیاز تأثیری همانند داروی اکسپکتورانت دارد و برای سرفه خشک و خیس مفید است.

۴. مصرف هلیه‌ی سیاه با شکر زرد پیش از خواب و هنگام صبح برای کاهش خلط مفید است.

۵. طب آیورودا یک رژیم غذایی پر از غذاهای تلخ و گس را به جای غذاهای شور یا شیرین برای افراد مبتلا به آسم توصیه می کند. این باور وجود دارد که شیر گاو و گندم برای مبتلایان به آسم سودمند است. زنجبیل، فلفل سیاه، ریحان مقدس، شیرین بیان، جوز هندی، نعناع و گالانگال برای درمان بیماری ها و اختلالات تنفسی مفید هستند.

برای مقابله با هر بیماری‌ای به یک بدن سالم نیاز داریم. علاوه بر غذا، ۱۵ الی ۳۰ دقیقه ورزش، تمرین تنفس و استراحت کافی تأثیر عمیقی خواهند داشت.

## روسیه: په افغانستان کې د برېتانوي ځواکونو د جرمونو نه څېړل کېدو اندېښمن کړي یو

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې په افغانستان کې د هغو برېتانیایي ځواکونو چې پر جنګي جرمونو تورن دي، د لسګونو دوسیو د نه څېړل کېدو په اړه اندېښمن دي.

د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویاندې ماریا زخارووا ویلي دي چې د ۲۰۱۷ ز کال دمخه په افغانستان کې د برېتانیا د پوځ له لوري د ملکي وګړو د وژنې ۵۲ دوسیو په اړه شواهد شته، خو د دې دوسیو په اړه پلټنې پرته له دې چې څوک په رسمي توګه تورن کړای شي، پای ته رسېدلې دي.

هغې دغه راز د یو ماین د خنثی کولو پر وخت د نیوزیلنډي ځواکونو د بې پروایۍ په نتیجه کې د اوو ماشومانو د وژل کېدو او اوو تنو نورو د ټپي کېدو د نا تایید شویو رپوټونو یادونه هم کړې ده.



په هغه اعلامیه کې چې په کابل کې د روسیې سفارت خپره کړې، د روسیې د بهرنیو چارو وزارت د ویاندې له قوله ویل شوي: «موږ په افغانستان کې د ملکي وګړو پر ضد جنایتونه په کلکه غندو».

په اعلامیه کې راغلي چې د برېتانیا او نیوزیلنډ له چارواکو غواړو چې په دې تړاو پلټنې بشپړې کړي او عاملین یې ژر تر ژره عدلي او قضایي ارګانونو ته وسپاري.

زخارووا ټینګار کړی چې د عدالت له تامین پرته د نړیوال تروریزم ماتې مشکله ده.

دا په داسې حال کې ده چې د بي بي سي د یوې خپرونې د پلټنو پر بنسټ چې درې اونۍ مخکې خپره شوې، د برېتانیا دولت او پوځ پر دې تورن شوي چې د ځواکونو له خوا یې د افغان او عراقي اتباعو د وژنې دوسیې پټې کړې دي.

خو برېتانیا بیا دغه تورونه رد کړي او افغان حکومت هم په دې هکله نظر نه دی څرګند کړی. په ورته وخت کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هم ویلي چې که دا کار شوی وي، باید وڅېړل شي.

د دغه کمېسیون کمېشنرې بنفشې یعقوبي امریکا غږ ته ویلي: «دا د منلو وړ نه ده چې نړیوال ځواکونه چې د افغانستان د دولت دوستان دي، په عمدي توګه د افغانستان وګړي ووژني. باید په دقیقه توګه وڅېړل شي چې داسې کوم عمل شوی دی او که نه».

## ستولټنبرګ: اجازه نه ورکوو چې داعش بیاځلې په افغانستان کې سر راپورته کړي

د ناټو سرمنشي ینس ستولټنبرګ د بلجیم په پلازمېنه بروکسل کې یوې خبرې غونډې ته ویلي، اجازه به ورنه کړو چې داعش ډله په افغانستان کې بیا سر راپورته او یا هم هلته خلافت جوړ کړي.

هغه دغه راز زیاته کړې چې راتلونکې اونۍ (د ډسمبر ٤مه او ٥مه) د ناټو سرمشریزه غونډه په لندن کې جوړېږي او د دغه سازمان ۷۰یمه کلیزه به نمانځي.

نوموړي په دغه کنفرانس کې په تېرو ۷۰ کلونو کې د ناټو سازمان د لاسته راوړنو، پرمختګونو، ستونزو او ننګونو په اړه خبرې وکړې او رسنیو ته یې معلومات ورکړل.

هغه ویلي چې د دغه سازمان ګډو ځواکونو د نړیوالې ترهګرۍ پر ضد مبارزه کړې او په افغانستان او عراق کې یې روزنیز ماموریتونه پر مخ وړي دي.

ستولټنبرګ زیاته کړې چې په سرمشریزه غونډه کې به د یادو لاسته راوړنو تر څنګ، پر راتلونکو پروګرامونو بحثونه او ځینې پرېکړې به هم وشي.



د هغه په خبره، ناټو د داعش او نورو ترهګرو ډلو پر ضد خپلې مبارزې ته دوام ورکوي او په افغانستان کې د سولې د روانو خبرو هرکلی کوي.

ده زیاته کړې، طالبان باید د سولې لپاره خپله ژمنتیا وښیي، د دې تر څنګ ناټو به د افغان ځواکونو روزنې او ملاتړ ته هم دوام ورکوي.

نوموړي د طالبانو او امریکا تر منځ د تازه اړیکو او د سولې په تړاو د وروستیو پرمختګونو د هرکلي تر څنګ ویلي، چې امریکا پر دې پروسې تل له ناټو سره سلا مشورې کړې دي.

د ناټو سرمنشي زیاته کړې، په سرمشریزه کې به ټول غړي هېوادونه د افغان ځواکونو د ملاتړ ژمنې بیا تکرار وي، څو دغه هېواد یو ځل بیا د ترهګرو پر ځالې بدل نه شي.

د هغه په خبره، په افغانستان کې هم داعش ډله له ماتې سره مخ شوې او دوی به اجازه ورنه کړي چې یو ځل بیا سر راپورته او یا هلته خلافت جوړ کړي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک
توریستي شرکت
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ لسمه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر لومړۍ | ۴۷۱یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۸ | ۱۸ | ۱۵ | ۲۰ | ۱۷ |
| -۱ | ۳ | ۲ | ٤ | ٥ | ٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۳ | لمر ختل ۰۶:۴۰ | ماسپښین ۱۱:۴۲ | مازیگر ۰۲:۲۵ | ماښام ۰٤:٤٤ | ماخوستن ۰۶:۱۲

## نړۍ




## مادورو: که امریکا له پاروونکو اقداماتو ډډه ونه کړي، له ناوړه پایلو سره به مخ شي



د وینزویلا ولسمشر نېکولاس مادورو امریکا ته خبرداری ورکړی چې که له پاروونکو اقداماتو لاس وانه خلي، له ناوړه پایلو سره به مخ شي.
نوموړي ویلي، معلومات یې ښیي چې امریکا او کلمبیا په دغه هېواد کې د کړکېچونو د زیاتوالي لپاره پر نویو پلانونو کار کوي چې د هغه په خبره، ناوړه پایلې به ولري.
مادورو دغه راز پر خپل پوځ هم غږ کړی چې په نړدې راتلونکي کې د هر ډول جګړې لپاره چمتووالی ونیسي.
هغه په یوه ټویټ کې لیکلي: «زه خبر لرم چې امریکا او کلمبیا په ګډه زموږ د هېواد په لوېدیځ کې د پاروونکو اقداماتو لپاره نوي پلانونه جوړوي. زموږ ټول ځواکونه باید په نږدې راتلونکي کې د هر ډول جګړې لپاره تیاری ولري».
دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې مادورو د دغه هېواد په لوېدیځ کې له کلمبیا سره پر ګډه پوله د پوځي تمرینونو د پیلولو اعلان هم کړی و.
که څه هم د وینزویلا او کلمبیا تر منځ اړیکې له پخوا خرابې وې، خو په دې وروستیو کې د دواړو هېوادونو تر منځ دغه اړیکې هغه مهال لاترینګلې شوې، چې مادورو پر کلمبیا تور پورې کړ چې د ده د حکومت له مخالفانو ملاتړ کوي.

## وزارت مالیهٔ: تلاش‌ها برای ترویج و قانون‌مندسازی بیمهٔ اسلامی آغاز شده است




مسئولان وزارت مالیهٔ در نخستین کنفرانس معرفی بیمهٔ اسلامی می‌گویند که طرحی برای قانون بیمهٔ اسلامی تهیه کرده‌اند و به وزارت عدلیهٔ فرستاده‌اند.
ریاست عمومی امور بیمه وزارت مالیه دیروز نخستین کنفرانس معرفی صنعت بیمهٔ اسلامی را در کابل برگزار کرد.
مسؤلان وزارت مالیه می‌گویند که به دلیل حساسیت‌های دینی شهروندان کمتر به موضوع بیمه توجه می‌کنند و خواستار ایجاد راهکاری برای اجرای بیمهٔ اسلامی یا «تکافل» هستند.
به گفتهٔ آنان، این گونه نشست‌ها به منظور آگاهی‌دهی به مردم در هفته‌های آینده در دیگر ولایت‌ها نیز برگزار خواهد شد.
مسئولان وزارت مالیه می‌گویند که آنان قانون بیمهٔ اسلامی و چهارچوب حقوقی آن را با همکاری مالی بانک توسعه اسلامی تهیه کرده و برای تبدیل این طرح به قانونی وزارت عدلیه فرستاده‌اند.
اما قانون دیگری برای فعالیت شرکت‌های بیمه از قبل وجود دارد.
مسئولان این وزارت می‌گویند که کار روی هر دو قانون جریان دارد و پس از نهایی شدن برای تصویب به شورای ملی فرستاده خواهند شد.
عبدالمجید غنی‌زاده، رئیس عمومی تقنین وزارت عدلیه به رادیوی آزادی گفته است که آنان تلاش می‌کنند که این دو قانون در تناقض با هم قرار نگیرند.
رئیس عمومی تقنین وزارت عدلیه می‌افزاید: «کار روی بیمهٔ تکافل اجتماعی ادامه دارد و همکارهای ما روی قانون بیمه هم کار می‌کنند».
با این وجود مسؤلان وزارت مالیه می‌گویند که بیمهٔ اسلامی در ۲۲ کشور دیگر رسمیت پیدا کرده است و با توجه به حساسیت‌های دینی، این صنعت کارایی خوبی در کشورهای اسلامی داشته است.

CoAR 1989

**هماهنگی کمک ها برای افغانها**

**Coordination of Afghani Relief**

## اعلان داوطلبی


مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی وزارت احیا و انکشاف دهات تصمیم دارد تا برای تقویت اقتصادی خانم‌ها در ولایت دایکندی، چاپ کتاب، بکسه‌های پس انداز قرطاسیه و اجناس مورد ضرورت پروژه را خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.ac-bar.org.af از تاریخ (December 01, 2019) الی (December 07, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

**خانه نمبر ۱۶۷۶، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.**

procurement@coar.org.af


## ژوند

## د لویو بریاوو نښې مو در سره وساتئ!



زما یو ملګری کب نیوونکی دی. هغه د خپل کور په بېلابېلو کوټو کې پر دېوالونو د ټولو هغو کبانو لوی لوی عکسونه بند کړي، چې په ډېرې سختۍ یې پر نیولو بریالی شوی او دا یې د ځان لپاره یو ویاړ باله. یوه ورځ یې کور ته ورغلم، پوره یو ساعت یې په کوټو ګرځولم او د هر کب د نیولو صحنه یې راته تشریح کوله. هغه به راته ویل، له دې لوی شین رنګه ماهي سره یې پوره یو ساعت تېر کړی، خو بیا هم وتوانېد ویې نیسي، دا مخامخ زرین کب چې ګورې سخت مې تېرویسته، ډېر هوښیار و، خو بیا هم رانه خلاص نه شو. د هر ماهي د نیولو بېله کیسه یې لرله. هغه په تېر ژوند کې ډېر کوچني کوچني کبان هم ښکار کړي وو، خو د یوه یې هم عکس پر دېوال نه و بند کړی، بلکې یوازې د لویو کبانو عکسونه یې بند کړي وو، هغه چې د ځان لپاره یې بریا بلله او ارزښت یې ورته درلود. واړه کبان چې ارزښت یې نه ورته درلود، هېڅ یې په اړه خبرې نه کولې.
دغه راز خدای پاک هم زموږ په حق کې ډېر لوی لوی کارونه کړي دي. هغه زموږ ورځنۍ اړتیاوې پوره کوي، قدرت او عقل راکوي او په امن کې یې ساتلي یو. موږ ټول د هغه د شکر پوروړي یو.

## په اونۍ کې یو ځل تمرین کول مو هم په ګټه دي



د تازه تر سره شوې څېړنې له مخې، هغه کسان چې عمرونه یې له ۶۰ کلنۍ پورته دي، کولای شي په اونۍ کې د یو ساعت لپاره د یوې ورځې په تمرین کولو د زړه حملې او فلج ګواښ له منځه یوسي. هغه کسان چې په اونۍ کې درې یا څلور ورځې تمرین کوي، د هغو په پرتله چې نه یې کوي، د زړه ناروغیو ۱۱ سلنه مخه نیولای شي. دې څېړنې په اونۍ کې یوازې د یو ساعت لپاره د عام تمرین، تګ یا منډې په واسطه په روغتیا کې د مناسب بدلون ښودنه کړې، خو دوی زیاتوي چې که تمرین په اونۍ کې یوازې دوه واره تر سره شي هم د زړه ناروغۍ پنځه سلنه مخنیوی کوي.
دې څېړنې چې له یو میلیون زیات کسان په کې شامل شوي موندلې، هغو کسانو چې په اونۍ کې یې پنځه ورځې تمرین کاوه، خو وروسته یې پرېښی، په دوی کې د زړه ناروغۍ ګواښ ۲۷سلنه زیات شوی دی. په څېړنه کې له پوهانو او ډاکټرانو څخه غوښتل شوي څو هغو کسانو ته چې عمرونه یې زیات دي، د زړه ناروغۍ د مخنیوي لپاره د تمرین سپارښتنه وکړي، ځکه چې د غوره روغتیا لپاره تمرین تر ټولو اړین دی.